مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۱۷

# نهيلي

د ژمي يخه ورځ ده

پرون بيا ډيره واوره و اوريده

نن آسمان برګ دی، خو يخني ډيره ده

د بخارۍ خنګ ته ورځپاڼي لولم

ورځپاڼي نه دي شبنامي دي ټولي

ټولي نفرت خوروي

ما هم دا ټولي بخارۍ پسي کړې

له بخارۍ ترخه لوګي راخيږي

د بخارۍ خواته کتاب ايښی دی

له دې کتاب نه هم نفرت اوريږي

لکه کتاب باندې له عکس ښځه

عکس ټوپک په لاس کې

ښاري دښمن له ليرې

کتاب د هغه له اوصافو ډک دی

کتاب نفرت دی، له دروغو ډک دی

ورځپاڼي هم دلته کيني خوروي

عکس په کرکه ګوري

کتاب نفرت خوروي

ورځپاڼي کرکې ښځه مالامال دي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ